بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

سریال نمبر: 286

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# صوابۍ: د خوارج لویه شبکه بې نقابه کړې شوه

په صوابۍ کې د پولیسو او سي ټي ډي په ګډو هلو ځلو په 7م اپریل 2023م کې په صوابۍ کې د دوه پولیس افسرانو په وژنه کې د ککړو خوارج په پېژندلو سره اصلي ترهګر د یو ملګري سره ونیول شو۔

د پلټنو پر مهال مهم انکشافات مخې ته راغلي، چې جزیات یې په لاندې ډول دي:

- **د ترهګرې ډلې اصلي سرغنه له 2016 کال راهیسې په سیمه کې د پېش امام او مدرسې مهتمم په نوم د ماشومانو په ځانګړې روزنه کې لاس درلود چې د نیول شوي ترهګر په ګډون یې 12 خطرناک ترهګر پیدا کړل۔**
- **دغې ترهګرې ډلې په صوابۍ کښې په مختلفو عملیاتو کښې دوه پولیس افسران او دوه ملکیان په نښه کړل او د توردهیر په پولیس سټیشن یې لاسی بمونه غورځول۔**
- **دسرچینو له مخې دترهه ګرو مشر دخپل ورور په مرسته چې دتحریک طالبان پاکستان سره تعلق لري په افغانستان کې پټ دی۔**

د ترهګرې ډلې پر وخت تعقیب او مهم نیول یقیناً د سي ټي ډي او پولیسو یوه لویه لاسته راوړنه ده او د دوی د مسلکیتوب ثبوت دی۔

**د سي ټي ډي او پولیسو په استعداد کښې وروستو زیاتوالی د خوارج خلاف عملیاتو کښې مهم کردار ادا کوي۔**